دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت
اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

الله پاک تاسې ته امر کوي چې امانتونه خپلو خاوندانو ته وسپارئ. او چې کله مو د خلکو په مینځ کې پریکړه او حکم کاوه، نو باید په عدل او انصاف سره یې وکړئ. بیشکه الله پاک تاسې ته ډېر ښه نصیحت کوي. او الله پاک ښه اوریدونکې او ښه لیدونکې دی. (النساء: ۵۸)

درس حدیث

از جابر (رضی الله عنه) روایت است که:
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: از ظلم بپرهیزید، زیرا ظلم تاریکی های روز قیامت است. و از آزمندی بپرهیزید، زیرا آزمندی مردمی را که پیش از شما بودند، هلاک ساخت، وادار شان کرد، تا خونهای شانرا بریزند، و محارم شانرا حلال شمارند. (الحدیث)

شهادت شپږم کال، ۷ مه ګڼه، پرله پسې ۲۵۱ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۳ هـ ل د غویی ۱۲ مه د ۱۴۳۵ هـ ق د رجب المرجب ۲ مه د۲۰۱۴ م د مې ۶ مه

ګل اغا شېرزي له ډاکټر عبدالله عبدالله نه ملاتړ وکړ

((موږ معامله ګر نه یو او د معاملې، څوکۍ او یا واک لپاره له ډاکټر عبدالله عبدالله سره نه یو، یو ځای شوي؛ بلکې موخه مو د الله رضا او هېوادوالو ته خدمت دی)) (ګل آغا شېرزي)

کابل، رسنۍ:
د ګل اغا شېرزي په مشرۍ د سولې او بیارغونې ټاکنیز ټیم د ډاکټر عبدالله عبدالله په مشرۍ د اصلاحاتو او همپالنې له ټیم نه خپل ملاتړ اعلان کړ.
په دې اړه په جوړه شوې غونډه کې د ولسمشرۍ نوماند محمدشفیق ګل اغا شېرزي وویل، چې له ډاکټر عبدالله عبدالله نه یې د امنیت او سولې د تأمین، ښې حکومتولۍ، اهل ته د کار سپارل او د یوې سالمې ادارې د جوړېدو لپاره، ملاتړ کړی دی.

نوموړي زیاته کړه، دوی به په ګډه د ښځو له حقونو، ځمکنۍ بشپړتیا او د افغانستان د خلکو له حقونو دفاع وکړي او بېکارۍ به له منځه یوسي: "موږ غواړو داسې حکومت رامنځته کړو، چې له ګاونډیو هېوادونو او نړۍ والې ټولنې سره ښې اړیکې ولري. د ملي یووالي تر چتر لاندې د خلکو خدمتګار اوسي."
د ښاغلي شېرزي په وینا، دوی هڅه کوي چې افغانان نور له وینه تویولو خلاص او په هېواد کې سر تاسري سوله تامین کړي.
د سولې او بیارغونې د ټیم مشر وویل، دوی معامله ګر نه دي او د معاملې، څوکۍ او یا واک لپاره له ډاکټر عبدالله عبدالله سره نه دي یو ځای شوي، بلکې موخه یې د الله رضا او هېوادوالو ته خدمت دی.
هغه ژبنیو مسایلو ته لمن وهل او د نفاق رامنځته کول ملي خیانت ... (۴ مخ)

د اصلاحاتو او همپالنې ټیم د بدخشان او شمال ولایاتو د پېښو قربانیانو د لاس نیوې په اړه هغوی ته ډاډ ورکوي

د سرپل، جوزجان، فاریاب، بادغیس، سمنګان، بلخ او بدخشان په ولایتونو کې چې د سیلابونو او د ځمکې د ښوییدو له کبله زموږ زرګونو ورونو ته کوم د سر او مال زیانونه اوړیدلي دي د اصلاحاتو او همپالنې ټیم پر دغو غم لړلیو پېښو نه یواځې دا چې دردیدلی؛ بلکې دهغوی د لاسنیوی او بیارغونې په کارونو کې ورسره برابر شریک هم دی. داصلاحاتو اوهمپالنې ټیم ددغو پېښو له واقع کېدو سره سم په سملاسي توګه تر آخري توانه نه یوازې دا چې په فوري توګه خوراکي او نور د ضرورت وړ توکي ورته رسولي دي؛ بلکې د اصلاحاتو او همپالنې ټیم مشران همځلته ورغلي او له هغوی سره د مخامخ غمرازۍ ترڅنګ دهغوی د اړتیاو جاج هم اخستی، تراوسه پورې د میلیونو افغانیو نقدی مرستې ورسره کړي او د لازیاتو مرستو د رسولو کوښښونه هم په عملي ډول روان دي. د اصلاحاتو او همپالنې ټیم خپلو غمځپلو ورونو ته بشپړ ډاډ ورکوي چې د امتحان په دغو سختو شیبو کې ورسره هر ډول مرستې ته چمتو دي او ان شاء الله ډېر ژر به بیرته پخپلو پښو ودرېږي او اوړیدلی تاوان به یې جبران شي.

د انتخاباتي شکایتونو کمیسیون ۲۵۰ نور شکایتونه وڅېړل

کابل، رسنۍ:
د انتخاباتي شکایتونو کمیسیون په خپله دریمه علني غونډه کې د دوشنبې په ورځ د ۹ ولایتونو فراه، هلمند، بادغیس، غور، ارزګان، نیمروز، کندهار، هرات او زابل ولایتونو شکایتونه په علني ډول وڅېړل.
دغه غونډه چې د جمهوري ریاست د کاندیدانو د استازو په حضور کې وشوه چې؛ په یادو ولایتونو کې د حمل د شپاړسمې نېټې د انتخاباتو په اړه ټول ۲۵۰ شکایتونه په کې وڅېړل شول.
د شکایتونو کمیسون رییس ستار سعادت وویل چې؛ ممکن د دوی له څېړنو وروسته ځینې رای هم باطلې اعلان شي. ... (۴ مخ)

د حزب اسلامي د ځوانانو ټولنې د کابل په احمد شاه بابا مینې کې تربیوي غونډه جوړه کړه

کابل، شهادت:
د روان کال د ثور د میاشتې په ۱۲ نېټه د حزب اسلامي افغانستان د ځوانانو ټولنې د احمد شاه بابا مینې د ساحوي دفتر په تالار کې د تربیوي حلقې پرانستې غونډه جوړه شوه.
غونډه د قرآن کریم په تلاوت پیل شوه او لومړی ... (۴ مخ)

سفارت امریکا:

۹۰ در صد عابدات و آثار تاریخی افغانستان در معرض خطر قرار دارند

کابل، رسانه ها:
وزارت اطلاعات و فرهنگ افغانستان از ملل متحد، یونسکو و سایر موسسات حفظ آثار تاریخی در سطح بین المللی خواهان کمک های مالی و تخنیکی در قسمت حفظ آثار تاریخی این کشور که در معرض خطر قرار دارند شده است.
سفارت امریکا در کابل هم در این اواخر با نشر خبرنامه گفته است که ۹۰ در صد عابدات و آثار تاریخی افغانستان در معرض خطر قرار دارند.
مسوولان وزارت... (ص، ۴)

اسلامي، کمونستي او سیکولرستي نظامونه

اساسي توپیرونه یې (یوه لنډه جاجونه)

فدامحمد فایض

((هو! دا منو چې مسلمانان کمزوری شوی دي، مسلمانانو تر ډېره بریده د معنویاتو لمن پرېښې او یواځې د مادیاتو لمن یې راټینګه کړې حال دا چې اسلام د اعتدال دین دی چې معنویات او مادیات دواړه په خپله غېږه کې رانغاړي. هغو کسانو چې دین ته شا کړې د خدای (جل جلاله) بندګي یې پرېښې ده او د هوی او هوس بندګان شوی دي، هغوی ښایي ځانته دا حق ورکړي وي چې د سیکولرزم او لبرالیزم چغې ووهي. مسلمانان باید په ځان کې دا وړتیا پیدا کړي چې ځانونه د یوه اسلامي نظام د جوړولو جوګه کړي چې ټولې دنیا ته دا وروښوولای شي چې کوم نظام اسلام جوړولای شي او سپارښتنه یې کوي د نړۍ هیڅ «ازم» یې نه شي جوړولای.)) (۳ مخ)

دفتر UNHCR در انقره نمیتواند قضایای پناهنده گی افغانها را بررسی کند

کابل، رسانه ها:
وزارت خارجهء افغانستان می گوید، دفتر کمیشنری عالی سازمان ملل در ترکیه بنابر دلایل مختلف مسوول حل مشکلات پناهجویان افغان در آن کشور نیست.
در این اواخر ده ها مهاجر افغان در مقابل دفتر ساحوی سازمان ملل در انقره تجمع کرده اند و خواهان پناهنده گی در کشور های خارجی اند.
اما شکیب مستغنی سخنگوی وزارت خارجهء افغانستان به روز دوشنبه در کابل به خبرنگاران گفت بنابر ۳ دلیل دفتر سازمان ملل نمی تواند قضایای پناهنده گی این افراد را بررسی کند.
به گفتهء مستغنی، ... (ص، ۴)

تعدادی از وکلا خواستار سلب اعتماد نورالله دلاوری شدند

کابل، رسانه ها:
ولسی جرگه افغانستان از کمیسیون نظارت بر تطبیق قانون اساسی خواست تا محدوده صلاحیت این جرگه در زمینهء استیضاح و سلب اعتماد رییس د افغانستان بانک واضح سازد.
قرار بود نورالله دلاوری رییس د افغانستان بانک روز دوشنبه در نشست استیضاحیه ولسی جرگه حضور یابد اما آقای دلاوری به این جرگه حاضر نشد.
اعضای ولسی جرگهء افغانستان در مورد چگونگی صلاحیت این جرگه در زمینهء استیضاح و ... (ص، ۴)

سرمقاله: د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

جایگاه تیم اصلاحات و همگرایی در بین صفوف ملت تثبیت است

انتخابات ریاست جمهوری ۱۶ حمل ۱۳۹۳ انجام یافت، مردم ما با شور و شعف در آن اشتراک کردند، این اشتراک کاملاً مخالف پیشبینیها بود، تا جایی که آنان را هم بهت زده ساخت که قصد تخریب جریان انتخابات را داشتند و ناظرین جهانی هم بر آن صحه گذاشتند. مردم ما، اشتراک وسیع افراد ملت درین انتخابات را جشن ملی نام کردند که واقعاً یک جشن ملی بود؛ ولی بعداً اتهامات بی بنیادی هم برآن بستند و مهر تقلب و تخلف هم بر ناصیه اش زدند. این تهمت زدنها کاملاً یک عمل مهندسی شده بود.

البته ما بر آرای تقلبی باور نداریم و یگانه آرزوی ما همین است که اگر به اقتدار هم میرسیم باید توسط آرای شفاف برسیم؛ ولی ازین هم تشویش داشتیم که افراد و حلقات خاص انتخابات را عمداً به دور دوم ببرند، چنانچه همین سان شد؛ ولی تیم اصلاحات و همگرایی ازین ناحیه هیچ تشویش ندارد، چون بر آرای خود باور کامل دارد، از همین جهت کاملاً به انتخابات دور دوم هم آمادگی دارد. آرایی را که تیم اصلاحات و همگرایی دارد اگر ده بار هم انتخابات صورت گیرد در صندوق همین تیم خواهد ریخت.

از سوی دیگر محمد شفیق گل آغا شیرزی حمایتش را رسماً از کاندیداتوری دکتور عبدالله عبدالله کاندید ریاست جمهوری تیم اصلاحات و همگرایی اعلان کرد و از هواخواهان خود خواست تا در دور دوم انتخابات از دکتور عبدالله حمایت کنند و با تیم های مطرح دیگر هم گفتگوها ادامه دارد، امیدواریم به نتیجه برسد، که به این ترتیب حامیان دکتور عبدالله عبدالله بیش از آنچه هستند خواهد شد.

البته افراد و حلقاتی که در کمیسیون انتخابات و شکایات قبلاً جابجا شده اند و سعی داشتند انتخابات را عمداً با استفاده از موقعیتها و امکانات خود به دور دوم ببرند، از نظر ملت پنهان نیستند بقول حضرت بیدل:

نهان کی ماند آن رازی کازو سازند محفلها

تا جایی که به تیم اصلاحات و همگرایی ارتباط دارد در صورت ضرورت در وقت مناسب نقاب از رخ شان خواهد برداشت.

ما باور داریم که اگر در شمارش آرا مداخلات غرض آلود صورت نمیگرفت، کاندیدای تیم اصلاحات و همگرایی حتماً در دور اول به پیروزی میرسید؛ ولی اکنون که انتخابات را بدور دوم بردند، نیز از آن هیچگونه هراسی آنچنان که قبلاً هم ذکر شد نداریم، چون جایگاه خود در بین ملت را خوبتر میدانیم.

ما در اینجا دو مسأله را قابل ذکر میدانیم:

۱- باور داریم معامله یی که از سوی افراد ویژه با شمارش آرا صورت گرفت دولت کاملاً از آن آگاهی دارد و این عمل قبلاً مهندسی شده بود، امیدوار هستیم دولت در دور دوم دستهای غرض آلود را قطع کند و آنانی را که عمداً از روی تعصبات کور کشور را بسوی بحران میکشاند، حذف کند؛ زیرا ملت متوجه اجراآت و عملکردهای شان است.

۲- از تمام افراد واجد شرایط ملت میخواهیم که احساس خستگی نکنند و باید با کمال رغبت در دور دوم نیز اشتراک کنند و آرای خود را در صندوقهای رأی بریزند، اگر خدای نخواسته تساهل کنند و زیربار تبلیغات سوء و تهدیدها قرار بگیرند، آب به آسیاب دشمن خواهند ریخت. بقول علامه اقبال لاهوری:

ساحل افتاده گفت، گرچه بسی زیستم
هیچ نه معلوم شد، آه که من کیستم
موج ز خود رفته یی تیز خرامید و گفت
هستم اگر میروم، گر نروم نیستم

زندگی یک کشمکش دایمی است و مجموعهٔ اضداد را در خود نهفته دارد. چنین نیست که ما همهٔ عمرِ در آسودگی بسر ببریم و همه عمر شادمانی قدمهای ما را ببوسد، بناء،

ای ملت قهرمان افغانستان!

وقت آن فرا رسیده که از خواب گران برخیزید، احساس مسؤولیت کنید و آیندهٔ خود را با آرای پاک تان رقم زنید. به آنانی رأی ندهید که با برنامه های آورده از دیار بیگانگان بر سر شما حکومت کند، شما ملت قهرمان برای استقلال وطن و حاکمیت اسلام قربانی دادید، میلیونها فرد تان در خاک و خون غلتید، سالها را در انتظار آیندهٔ نامعلوم و پشت میله های زندان سپری کردند، بیوه دارید و یتیم و معیوب. پس بیدار شوید و هوشیار و آیندهٔ خود را بدست خود رقم بزنید تا فردا از تساهل تان پشیمان نباشید. آنانی که بیشرمانه از روی مهندسی از قبل صورت گرفته با آرای شما بازی کردند در کمین نشسته اند تا در دور دوم هم چنین کنند ولی به آنها اجازه داده نخواهد شد تا به آرمان نامقدس خود برسند.

✍ عبیدالله صافی

د رسنیو مسؤولیت او اهمیت

د ثور پنځمه د رسنیو نړۍ واله ورځ وه چې په ټوله نړۍ کې د رسنیو پر اهمیت رڼا واچول شوه. رسنۍ په ټولنه کې هغه ستره موثره وسیله ده چې د نړۍ هېوادونه د امن او پرمختګ پر لاره هم روانولي شي او د تباهۍ پر لاره هم.

په اسلام کې د رسنیو مسؤولیت دا دی چې اولس ته واقعیتونه او حقایق وړاندې کړي د خپلې هرې څېړنې او لیکنې پر وخت یوازې او یوازې خدای حاضر او گواه ونیسي او د شریعت په رڼا کې د خپل اولس هر اړخیزې گټې په پام کې ونیسي، د حقایقو د مسخ کولو کوښښ دې کله هم نه کوي، داسې لیکنې او تبصرې دې نه خپروي چې د هېواد سلامتیا، د اولس یووالې او استحکام له گواښ سره مخامخ کوي.

رسنۍ د اولس د فکر او عقیدې په جوړولو کې د ملا د تیر حیثیت لري، که رسنۍ په واقعي معنا د خپل اسلامي او ملي مسؤولیت له مخې خپل ایماني رسالت ترسره کړي؛ نو له څه شک پرته خپل اولس له تورې تیارې نه راویستلې او د واقعیتونو په رڼا کې د ژوند تیرولو نعمت ور په برخه کولای شي؛ خو ډېر افسوس چې په افغانستان کې ډیرو وگړو گڼې رسنۍ د خپلو ذاتي غوښتنو او خواهشاتو تابع گرځولي دي. ددې پرځای چې د هېواد او ولس مجموعي گټې په نظر کې ونیسي او خپل ملي او ایماني مسؤولیت ترسره کړي په عمدي ډول د حقایقو او واقعیتونو د تحریفولو کوښښ کوي، باطل ته د حق او حق ته د باطل د بڼې ورکولو ناروا کوښښ کوي، ډیری لیکوالان او شنونکي کوښښ کوي چې له خورد نه خروار او له خروار نه خورد جوړ کړي. لیکوالان مسؤولیت لري چې له څه ثبوت او بشپړو مالوماتو پرته پر چا د جرم او گناه تورونه ونه لگوي او نه هم د یو بې گناه انسان شخصیت داغداره کړي.

لیکوالي او تبصره نگاري څه توکې ټکالې نه دي چې پر اولس خراب اغیزه ونکړي؛ بلکې دا یو داسې مهم او برخلیک ټاکونکی کار دی چې د اولس پر افکارو مستقیمه اغیزه پرېباسي، د منفي او تخریبي تبلیغاتو په نتیجه کې هېواد د زوال او ناامنۍ په لور، او د مثبتو خپرونو له لارې د پرمختګ او استحکام په لور گامونه اخلي.

په اوسنیو شرایطو کې زموږ هېواد ملي وحدت او استحکام ته تر ټولو زیاته اړتیا لري؛ خو ډیری رسنۍ اوس هم د قوم، ژبې او سمت پالنې د تعصب په ناروغۍ اخته دي چې دا کار په مادي او معنوي لحاظ د افغانانو په تاوان دی.

د نړۍ په گڼو هېوادو کې جلا جلا پرگنۍ، ژبې او مذهبونه شته چې شمار یې لسگونو ته رسېږي؛ مگر هلته د ټولو اوسېدونکو پاملرنه د اولس یووالې په لور ده، هلته تعصبونو ته لمنه وهل ستر جرم دی او هیچاته اجازه نه ورکول کېږي چې د تعصب شیطاني فکر ته وده ورکړي. د اسلام سپیڅلی دین د قوم، ژبې، رنگ او سمت تعصب په مطلق ډول حرام گرځولی دی. الله تعالی پخپل سپیڅلي کتاب قرآنکریم کې په قاطعیت سره فرمایلي دي چې ټول انسانان مې د یو پلار او مور نه پیدا کړي دي او ددې ټولو اصل یو دی. په انساني لحاظ هیڅوک پر یو بل فضیلت نه لري؛ مگر هغه څوک افضل دی چې زیات پرهیزگار وي، همدغه راز محمد صلی الله علیه وسلم په څرگندو ټکو کې لارښوونه کړې چې هر څوک د عصبیت لپاره کار کوي هغه زما له ډلې څخه نه دی. زموږ د افغانانو لومړی مسؤولیت د مسلمان په توگه او دویم مسؤولیت د انسانیت په لحاظ دا دی چې پخپلو ټولو خبرو، کړنو او لیکنو کې د داسې څه مرتکب نه شو چې د هېواد او نړۍ امن ته تاوان رسوي، په ځانگړې ډول افغانستان چې ملي یووالي او سلامتیا ته زیات اړتیا لري د قومي او ژبني تعصب په سرو لمبو کې ونه سوځوو.

د قلم او بیان ازادي د اسلام عین مطلوب دی خصوصاً په هغو حالاتو کې چې دا هر څه د حق د سرلوړي او د باطل د سرنگوني لپاره وي، له څه شک پرته په اسلام کې د ظلم او منکراتو پرخلاف خوله پرانستل لوی جهاد دی او محمد صلی الله علیه وسلم د جابر حاکم په وړاندې حقه خبره کول ستر جهاد بللی؛ خو لدې واقعیت نه هم باید ځانونه خبر کړو چې د قلم او ژبې له لارې منکرات او د گناه خپرول هم ستره گناه گڼل شوې، هغه کسان چې په هېواد کې د ناامنۍ د پیدا کولو او یا هم د حق د مخنیوی او د باطل د تقویې لپاره هلې ځلې کوي په قرآنکریم کې هغوی مفسدین او د الله تعالی دښمنان گڼل شوي دي. له بده مرغه زموږ په هېواد کې ډیری رسنۍ داسې هم شته چې هغوی له خپل ایماني او ملي مسؤولیتونو نه بالکل غافلې دي او هغه څه خپروي چې له اسلامي او ملي روحیې سره هیڅ اړیکه نه لري، دهغوی هدف یوازې مادیات ترلاسه کول دي نه د هېواد او اولس گټې.

هر هغه څوک چې په رسنیو کې گام ایښودل غواړي هغه ته پکار دي چې لومړی خپل نفس له هر ډول شیطاني جذباتو څخه پاک او په سلو کې سل د هېواد او ولس د گټو د ساتنې پاک احساسات په زړه کې ځای پرځای کړي، ځکه چې رسنۍ د هېواد د څلورمې قوې، یا د څلورمی ستنې حیثیت لري، په رسنیو کې کار کول بشپړ ایمان، شجاعت، صبر، استقامت او نفساني خواهشاتو سره کلکه مبارزه غواړي. د حضرت بلال، حضرت سلمان فارسي، حضرت ابوذر غفاري، حضرت عبدالله ذوالبجادین، حضرت خالد بن ولید او حضرت امام حسین (رضی الله عنهم) په څیر حوصله او پایمردي ته اړتیا لري چې د هر ډول ستونزو پر وړاندې دهغه پښې ونه ښوییږي، نه د چا له مال نه وویرېږي او نه هم د چا زور او قدرت نه؛ بلکې په هر حالت کې د هر ډول قرباني لپاره چمتو وي. که څه هم د مادیاتو په اوسنۍ نړۍ کې په سلو کې سل د پاکو رسنیو او پاکو لیکوالانو او مبصرینو تمه کول گران کار دی؛ خو اوس هم د رسنیو په ډگر کې ډیری کارکوونکی داسې هم شته چې دهغوی استقامت، تقوی، استغنا، بې پریتوب، له هېواد او ولس سره مینه، د لیدو وړ او د ستایلو قابل دی، د همدغو زمریانو د هلو ځلو برکت دی چې حق له باطل نه جلا او د مفسدینو د فساد پټې توطیې لوڅېږي. د افغانستان اولس گواه دی چې په دې هېواد کې داسې مزدورې او شیطاني رسنۍ هم شته چې هغوی په سلو کې سل د باطل پر ستو او الحادي فکرونو د تقویې او برلاسۍ لپاره خدمتونه کوي او دهغوی پر جرمونو د پردې اچولو لپاره تر آخري توانه کوښښ کوي. هر وخت پخپلو نشراتو کې فاحشې سندرې، بربنډ فلمونه، له اخلاقه پریوتې نیم بربنډې ډرامې او د اسلامي عقیدې او فرهنگ پر خلاف پروگرامونه وړاندې کوي، حق د باطل او باطل د حق په بڼه ښکاره کوي، تر څو په هېواد کې د اسلام د سپیڅلی دین او د افغان مسلمان ولس د فرهنگ پرځای شیطاني فرهنگ رائج کړي.

قلم هغه لوی نعمت دی چې الله تعالی له هر څه نه مخکې پیدا کړی او دهغه د اهمیت په اړه یې په خپل سپیڅلي کتاب قرآن کریم کې پر قلم او هغه څه چې وربانديې لیکي لوړه کوي او فرمایي: ((والقلم ومایسطرون)) پر قلم او دهغه پر لیکنه د لوی الله قسم خوړل په دې خبره دلالت کوي چې د انسان د نیکمرغۍ او پرمختگ په ډگر کې د قلم رول تر ټولو ستر دی، همدا قلم او ژبه ده چې په برکت یې انسان له ډیرو غټو نعمتونو څخه برخمن کېږي؛ نو ځکه د قلم او ژبې خاوندانو ته پکار دي چې د ژوند په هر ډگر کې له بشپړ ایمان، دیانت، تقوی او له اسلامي احکامو څخه کار واخلي. خپل قلم او ژبه دی کله هم داسې نه کاروي چې ټولنې ته تاوان ورسوي، موږ چې په دې نړۍ کې هر څه کوو لوی الله د قیامت په ورځ ددې ټولو حساب او کتاب اخلي او له موږ نه دا پوښتنه کوي چې خپل قلم او ژبه دی د حق د برلاسۍ او د انسانیت د خیرښیگڼې لپاره استعمال کړو، او که د باطل د اقامې او د فساد د خپرولو لپاره؟!

زه د خپلو ټولو هغو ورونو څخه چې د قلم له نعمت څخه برخمن دي او په رسنیو کې کار کوي په ډیر درنښت هیله کوم چې د افغانستان په دغو حساسو شرایطو کې چې د گڼو ستونزو ترڅنگ په اخلاقي، فرهنگي، عقیدوي او نورو وارداتي فکرونو په ستونزو کې راگیر دي د عمل ډگر ته ودانگي، د ټولو شیطاني او غیر اسلامي رسنیو په خلاف د مزبوت غر په څیر ودرېږي، د هر ظلم، تیري، مکر، فریب او ناروا په خلاف مستدل، قانع کوونکي او منطقي لیکنې وکړي، خپل ولس له تورو تیارو نه راوباسي او په روښانه لاره یې روان کړي.

زمکنی حقایق په دې خبره گواهي ورکوي چې په اوسني وخت کې د اولسونو د اصلاح، د حق د اقامې او د باطل د محوه کولو لپاره تر ټولو مؤثر څیز په حق ولاړې او شفافې رسنۍ دي، یوازې د همدغو رسنیو له لارې کولای شو چې خپل ولس په نیغه لاره روان او د وروری په صف کې ودروو: د علم او پوهې له نعمته برخمن او د پرمختگ او سولې په لاره یې روان کړو. که الله مه کړه زموږ متعهد مسلمان لیکوالان، علماء، شاعران او استاذان په رسنیو کې د گډون درووند مسؤولیت ترسره نه کړي؛ نو لیرې نه ده چې د افغانستان مسلمان ولس به له ډیرو نورو گنو ستونزو سره هم لاس او گریوان شي، او ددې پرځای چې د شیطاني رسنیو په وړاندې مزبوت بند واچوي، د پردیو د شیطاني فرهنگ په لومو کې به ونښلي چې ددې ټولو مسؤولیت به د مسلمانو لیکوالانو پر غاړه وي او لوی الله به ددې لوی غفلت دردوونکی عذاب هم ورکوي.

فدا محمد فایض

اسلامي، کمونستي او سيکولرستي نظامونه

اساسي توپيرونه يې (يوه لنډه جاجونه)

څومره چې زمانه پرمخ ځي، دنيا بدلېږي، د دنيا حالت او شرايط هم بدلېږي، دغسې د استعمار خبره هم بدلېږي او نوی رنګ او نوې بڼه خپلوي. که څه هم د اسلام او اسلام د دعوت او د اسلام د ستر پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) پر وړاندې لومړني دښمنان د مکې مشرکين وو؛ خو کله چې د اسلام ستر پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) د الله (جل جلاله) په حکم له مکې نه مديني منورې ته هجرت کوي او خبره دېته رسېږي چې د اسلامي دعوت ترڅنګ د اسلامي دولت د جوړولو پر لور ګام واخيستل شي او پيغمبر اکرم (صلی الله عليه وسلم) په خپلو مبارکو لاسو په مدينه منوره کې د يوه اسلامي دولت تاداو ږدي؛ نو دا مهال دي چې د يهودو له دښمني سره هم مخامخ کېږي.

د مصر نامتو ليکوال اروابناد استاد عباس محمود عقاد ليکي: که په دنيا کې هره فتنه سر راپورته کوي، که وېي پلټئ خامخا به يې تر شا د يهودو لاس ومومئ. که د تاريخ پاڼې وکتل شي د کمونيزم د نظريې لومړنی ريښې به تر ميلاد دری څلور پيړی دمخه په لرغوني يونان کې هم وموندلي شو، همدارنګه په پنځمه عيسوي پيړی کې مزدک سر رااوچت کړ. محمد نادر ايوبي پخپل «دوی څوک وو؟» نومي اثر کې کاږي چې د «الملل والنحل» کتاب په حاشيه کې راغلي دي چې مزدک په پيل کې د زردشتی اوماني مذهبونو خليفه بلل کېده چې وروسته يې د ځينو تغييراتو د راوستلو له لارې هغه دواړه مذهبه تر خپل اغيزی لاندې راوستل. دهغه عقيده وه دا چې په ټولنه کې هميشه د ځمکو او ښځو پر سر لانجې رامنځته کېږي؛ نو ځکه خو بايد دغه دواړه شيان په ټولنه کې مشترک وي چې دا پخپله يو ډول کمونيزم يا اشتراکيت بلل کېږي؛ خو په نولسمه پيړی کې چې يهودي الاصل آلماني کارل مارکس کوم نظريات رامنځته کړي، دده په نامه مارکسيزم ونومول شول. مارکسيزم د سيوسياليزم او کمونيزم دواړو تاداو تشکيلوي. مارکس هڅه وکړه چې هغه عوامل ومومي چې لويديزه ټولنه ترينه رنځېږي. دهغه په اند عيسويت او پانګوال نظام هغه دوه ستر عوامل دي چې لويديزه ټولنه ترينه رنځېږي؛ نو ځکه خو بايد ددې دواړو پر وړاندې مبارزه وشي. امام ابوالاعلی مودودي ليکي: مارکس چې د لويديزې ټولنې کوم تشخيص کړی هغه ډېر پر ځای دی: خو هغه د درملنې لپاره لازم دارو تجويزنه کړای شول. د مودودي (رح) هدف دا دی چې کمونيزم د لويديزې ټولنې درملنه نه شي کولای. مولانا دټولو بدبختيو علاج په سپيڅلی اسلام کې ګڼي. داچې مارکس عيسويت د لويديزې ټولنې د بدبختيو له عواملو نه ګڼه؛ نو لويه تېروتنه يې دا وه چې په نوم سره مذهب يې د ملتونو افيون وګڼه او دا ښيي چې هغه په مذاهبو کې مطالعه نه لرله او يواځې همغه عيسويت يې مطالعه کړی و؛ په ځانګړې توګه هغه له اسلام نه بالکل ناخبره و. عيسويت خو تحريف شوی و تر دې چې څو ډوله انجيل رامنځته شو.

۱- انجيل متی، ۲- انجيل مرقس، ۳- انجيل لوقا، ۴- انجيل يوحنا، چې پدې کې پخپله له عيسويانو نه هم لاره ورکه وه چې کوم انجيل اصلي او کوم په اصطلاح نقلي دی. کوم يو ومني او کوم يو رد کړي او بل دا چې د اسلام په راتګ سره پخواني ټول سماوي اديان منسوخ شول. يعنی ايمان پرې لرل لازمي او ضــرور شول چې دغه سماوي اديان هر يو پخپل وخت کې د الله (جل جلاله) له لوری رالېږل شوي او حق وو؛ خو نور منسوخ او عمل به پرې نه کېږي. حال دا چې د شهيد استاد سيد قطب د خبرې په تأييد اسلام راغلی د همدې لپاره دي چې حکومت وکړي. پخواني اديان د يوه مشخص وخت لپاره وو؛ خو اسلام د قيامت تر قيامه پورې د الله (جل جلاله) نافذ العقيده او نافذ العمل دين دی چې له حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) نه وروسته بل پيغمبر نه مبعوث کېږي او له قرآنه وروسته بل آسماني کتاب نه نازلېږي.

نبوت په محمد (صلی الله عليه وسلم) باندې تمام شو
نشـــته پـــس له محمده (صلی الله عليه وسلم) انبيـــا
(عبدالرحمن بابا)

د کمونيزم يا د مارکس د تعليماتو پر بنا لومړنی دولت په شوروي کې د بلشويکانو له خوا جوړ شو (۱۹۱۷) چې په (۱۹۹۱) کې د افغان جهاد له برکته وپاشل شو. د کمونيزم ترڅنګ بله لويديزه توطيه سيکولرزم په منظمه توګه له (۱۸۳۲) نه پيل شوې. دا تحريک جيکب هوليک له مذهب نه د سياست د جلا کولو په خاطر پيل کړ. ددې تحريک هدف دا و چې د مذهب دايره بايد تر شخصي ژوندانه پورې محدوده کړای شي او بايد په ټولنيز او سياسي ژوندانه کې مداخله ونکړي. په پيل کې خبره فقط د مذهب په معامله کې د بې پرې توب او د فرد د کاملې آزادۍ وه؛ خو وروسته ددې تحريک يوه برخه د مذهب په مخالفت او سرسخته ماديت او د کمونيزم په دايمي مخالفت بدله شوه. (د امام ابوالاعلی مودودي په اسلامي رياست د پروفيسور خورشيد احمد سريزه ۲۴، ۲۵ مخونه)

حقيقت دا دی چې عيسويت دهغو دلايلو پر بنا چې دمخه مو ذکر کړل نور د لويديزې ټولنې غوښتنو ته ځواب نه شواى ويلاى؛ نو ځکه خو لويديزوالو خپل مذهب بوت او په کليسا کې يې محصور کړ. هغوی اوس په مشخصو وختونو کې کليسا ته ځي چې هيڅکله هم له يوه سماوي دين سره نه ښايي. او نور چې کله له کليسا نه راووځي بيا نو مذهب ته شا کړي او په ياد يې هم نه وي. عيسويانو د خپلې عقيدې خبره تثليت ته ورسوله، په داسې حال کې چې د ټولو آسماني دينونو اساس پر توحيد ايښی دي، الله (جل جلاله) يو دی او هيڅ شريک نه لري.

ژباړه: ((ووايه (ای پيغمبره!) الله (جل جلاله) يو دی، الله (جل جلاله) بی نيازه دی، نه دی له چا پيدا او نه له ده نه څوک پيدا دی او نشته هيڅوک سيال دده.)) (اخلاص سورت)

دلته اوس د تاريخ په مطالعې سره له راشده خلافت وروسته موږ عباسي خلافت، اموي خلافت، فاطمي خلافت او عثماني خلافتونه پېژنو او له راشده خلافت وروسته په عباسي او اموي دوره او همدارنګه نورو دورو کې خلافت ميراثي شو او د شوری هغه بڼه چې اسلام يې سپارښتنه کوي له پامه وغورځول شوه، همدارنګه په بيت المال کې بيځايه مداخلې پيل شوی چې يواځې يو حضرت عمر بن عبدالعزيز (رح) د خپل نيکه سيدنا حضرت عمر فاروق (رض) پر پله پل کېښود او له عدل او انصافه ډک خلافت يې وکړ او علامه جلال الدين سيوطي عباسي خليفه مهدی هم پر ښو اجراآتو توصيفوي.

د حضرت عمر بن العزيز له کارنامو نه يوه دا وه چې د اموي کورنۍ غير ناقانونه امتيازات يې لغو کړل چې همدې کار ورته ويدې بلاوې راويښې کړی او دهغه د آشپز په ذريعه يې په خوړو کې ورته زهر واچول. مولانا ابوالکلام آزاد ليکي که څه هم هغه ددغه کار عامل وپېژانده خو هيڅ يې ورته ونه ويل او انتقام يې تری وانه خيست. تر هغه په راوروسته دورو په کرار کرار د اسلامي خلافت اصول کمزوري کېدل دغې مسئلې ډېرو هغو کسانو ته چې د اسلامي تعليماتو او اسلامي تاريخ ژوره مطالعه نه لري يو داسې تصور پيدا کړ، چې العياذ بالله اسلام د حکومت کولو جوګه نه دی چې دا يو ډېر غلط تصور او له حقايقو ډېر لرې دی، ځکه اسلامي تعليمات موږ ته دا راپه ګوته کوي چې اسلام او سياست هيڅکله هم سره جلا نه دي، هو! يو شی دی چې اسلامي سياست او اوسنی په نړۍ کې نافذ ماکياولستي سياست سره جوت توپير لري او ددې دواړو سياستونو اساسات سره جلا دي؛ نو طبيعي ده چې نتايج يې هم سره جلا دي. هغه کسان چې د لويديز تر تبليغاتو لاندې راغلي دي فکر کوي چې دا يواځې سيکولرزم دی چې پر بنياد يې نظام جوړيدلای شي او خصوصاً چې کمونيزم ماته وخوړه؛ خو هغوی دې ته نه ګوري چې اصلاً کمونيزم د لويديز او د لويديز د سياسي تفکر تر ماتې وروسته او د لويديز نظام د بديل په توګه دنيا ته وړاندې کړل شو، حال دا چې کمونيزم پخپله يوه بل ډول پانګوالی رامنځته کړه. که په لويديځ کې پانګې د يو شمېر افرادو په جيبونو کې تجمع کوله؛ خو کمونيزم يو لوی پانګوال رامنځته کړ چې هغه دولت و. همدا علت و چې د اندونيزيايي عالم محمد اسد شهاب په وينا په شوروي کې يواځې څلور سلنه وګړي کمونستان شوي وو چې هغه هم د کمونست ګوند غړي او له هر ډول امتيازاتو نه برخمن وو، پاتې شپږ نوي سلنه وګړي ټول د کمونيزم مخالف وو؛ ځکه کمونيزم د انساني فطرت مخالف يو نظام و، خصوصي ملکيت په کې منع و، هر ډول آزادي له منځه تللی وه، فقط هر څه چې همغه يوه لوی پانګوال (دولت) ويل خلک مجبور او مکلف وو چې د همغه لوی پانګوال خبره ومني او عملي يې کړي او که نه؛ انجام يې مرګ وو. د پروفيسر خورشيد احمد په وينا د عظيم الشان قرآن له مطالعی نه دا معلومېږي چې حضرت يوسف(ع)، حضرت موسی (ع)، حضرت داوود (ع)، حضرت سليمان (ع) او رسول اکرم (صلی الله عليه وسلم) منظم اسلامي دولتونه جوړ کړی وو او هغه يې په معياري بڼه هم چلول، همدارنګه دبابيل او تلمود له مطالعی نه د بني اسرائيلو د نورو انبياو په باب هم دغسې شهادتونه موندل کېږي چې هغوی دولتي اداري اصلاح او پر غلطيو يې تنقيدونه وکړل. (د اسلامي رياست سريزه ۱۸ مخ)

دا چې له اسلامي تعليماتو نه د مسلمانانو په ريښتينی معنا ناخبري او له بلې خوا د اسلام د دښمنانو توطيې نه پرېږدي چې د نړۍ په کوم ګوټ کې په ريښتينې معنا اسلامي نظام جوړ او پر پښو ودرول شي، دا بيا د اسلام ګناه نه ده، که چيرې موږ اسلامي تعليمات په دقيقه توګه مطالعه کړو، ګورو چې هغه ارزښتونه چې اوس يې لويديز سيکولر نظام ادعا کوي، دهغوی بهترينې نمونې اسلام، انساني ټولنې ته متعارفې کړې دي، بله مهمه خبره داده چې د اسلام په صدر کې مسلمانانو د اسلام پر دغو تعليماتو پوره پوره عمل هم کړی دی؛ خو د سيکولر نظام مدعيان وايي يو څه او عمل يې بل څه دی، بيا څنګه لويديز نظام د يوه نمونه نظام په توګه منل کيدای شي او يو شمېر غوليدلی مسلمانان څه ډول په دې باور کولای شي؟ د بيان د آزادۍ، د بشر د حقوقو، عدل او انصاف بهترينې نمونې په اسلام کې دي.

اسلام انسان آزادۍ ته رابولي او لويديز تفکر يې غلامۍ ته رابولي، يو څوک خو دې په دا ټول لويديز کې هغسې عادلانه او شفاف انتخابات راوښيي لکه د راشده خليفه ګانو په ټاکنه کې چې رعايت شوي. اسلام نړۍ ته نوی نه ورپيژندل کېږي، اسلامي نظام کومه نوی خبره نه ده. دا چې اسلام پر اسلامي نظام ټينګار کوي، علت دا دی چې اسلامي نظام د انسانانو له غاړی د بنده د بندګۍ غړوندی لرې کوي او د يوه واحد الله (جل جلاله) بندګی ته يې رابولي، اسلام د ژونديو کامل نظام دی، سياسي نظام لري، اقتصادي نظام لري، فرهنګي نظام لري، عسکري نظام لري، روحاني نظام لري، لنډه دا چې د نظام هيڅ داسې برخه نشته چې په اسلامي نظام کې نه وي موجوده.

اســـــلام بـذات خـــود نـدارد عيبی
هر عيبی که هست در مسلمانی ماست

هو! دا منو چې مسلمانان کمزوری شوی دي، مسلمانانو تر ډېره بريده د معنوياتو لمن پرېښې او يواځې د مادياتو لمن يې راټينګه کړې حال دا چې اسلام د اعتدال دين دی چې معنويات او ماديات دواړه په خپله غيږه کې رانغاړي. هغو کسانو چې دين ته شا کړي د خدای (جل جلاله) بندګي يې پرېښې ده او د هوی او هوس بندګان شوی دي، هغوی ښايي ځانته دا حق ورکړي وي چې د سيکولرزم او لبراليزم چغې ووهي. مسلمانان بايد په ځان کې دا وړتيا پيدا کړي چې ځانونه د يوه اسلامي نظام د جوړولو جوګه کړي چې ټولې دنيا ته دا وروښوولای شي چې کوم نظام اسلام جوړولای شي او سپارښتنه يې کوي د نړۍ هيڅ «ازم» يې نه شي جوړولای.

د اسلامي ګوندونو د يووالي وخت همدا اوس دی

نصرالله

په افغانستان کې د ديموکراسۍ له پيلېدو سره سم يو ځل بيا پخواني کمونستان، افغان ملتيان، سيکولرستان او نورې غير اسلامي ډلې ټپلې متحرکې او منسجمې شوي دي چې ښکاره بېلګه يې د ۱۳۹۳ کال د وري په شپاړسمه د ښاغلي اشرف غني تر شا دهغوی ودريدل او کمپاين کول دي، له کمپاين نه مخکې او د کمپاين پر مهال چې هغوی په رسنيو کې د مجاهدينو پر مشرانو او د افغانستان پر مقدس جهاد کوم ناروا تنقيدونه وکړل او ډول ډول تورونه يې ورباندې ولګول او اوس هم لګيا دي د جهادي ګوندونو پرخلاف زهرجن او ګمراه کوونکي تبليغات کوي، لدينه دهغوی لوی مقصد دادی چې د خپلو ناروا تبليغاتو له لارې خپل ځانونه د افغانستان ناجي، خادمان او خواخوږي ثابت کړي؛ مګر ددې برعکس د روسي اشغال پر وخت د هېواد او عقيدې د استقلال په خاطر ترسره شوی بريالي جهاد د ملت په وړاندې د اقتدار جنګ په توګه معرفي کړي: ځکه خو هغوی هر کال د ثور اتمه چې د مجاهدينو د برې او د کمونستانو د ظلم له منګولو نه د افغانستان د مسلمان ولس د نجات ورځ ده د تورې ورځې تر عنوان لاندې تجليلوي. لنډه دا چې له کومې ورځې نه د افغانستان مسلمان مجاهدين د روسي يرغلګر ځواکونو او کمونستي نظام په ړنګولو بـرلاسـی شوي کـمـونسـتـان او نـور سيکولرستان په آرامه ناست نه دي او په دې لټه کې دي چې د مختلفو حيلو، بهانو او فريبونو په کارولو سره يو ځل بيا خپلو شومو اهدافو ته ورسېږي چې په سږنۍ ټاکنو کې په منظم ډول يو موټي کيدل او په پوره ځواک په ټاکنو کې د اشرف غني تر شا ودريدل ددې خبرې ښکاره ثبوت دی. هغوی نه يواځې دا چې د ښاغلي اشرف غني له نوم نه د ناوړه ګټې په اخستلو سره د ډېريو ځوانانو ملاتړ ترلاسه کړ؛ بلکې افغان ملتيانو دا کوښښ هم وکړ چې ساده پښتانه دېته چمتو کړي چې اشرف غني ته د پښتون په خاطر خپلې رأيې ورکړي؛ ځکه خو اشرف غني ته زياتره رأی ورکوونکو پښتنو په صرف همدا دليل ويل چې موږ هغه ته ځکه رأيه ورکوو چې پښتون دی، په داسې حال کې چې کمونستانو او نورو سيکولرستانو ته نه د اسلام او مسلماني نوم اهميت لري او نه هم د پښتون او نورو قومونو؛ بلکې ددوی هڅه داده چې په افغانستان کې يو ځل بيا خپل ګنده افکار او عقايد رائج کړي، که کمونستانو ته د افغانستان د وګړو او پرګنو څه اهميت وای؛ نو د خپل اقتدار په وخت کې به يې په دومره شقاوت او بې رحمی نه وو وژلي او نه به يې هم خپل ولس، خاوره او دين د روسانو تر پښو لاندې اچولی و.

په افغانستان کې د کمونستي نظام د ړنګيدو ۲۲ کاله کېږي او په دې ۲۲ کلونو کې د لکونو په شمار نوی نسل ځوان شوی او د ژوند په ډګر کې ډېر پرمختګونه هم شوي دي، کمونستان او نور سيکولرستان تر اخري توانه کوښښ کوي چې د مجاهدينو د سرښندنو تېر تاريخ مسخ او دهغوی فکر او عقيده پخپله ګټه واړوي چې په اوسنيو ټاکنو کې د ۳۱ فيصده رأيو ترلاسه کول ددې څرګند ثبوت دی.

که واقعيت ته وکتل شي نو دا خبره ترلاسه کېږي چې په افغانستان کې يو ځل بيا په فکري او عقيدوي ډګر کې دوه صفونه د يو بل پرخلاف قرار لري، يو طرف ته د لاديني او الحادي نظر د خاوندانو صف دی او بل طرف ته دهغو مسلمانانو صف چې د خپلو اسلامي ارزښتونو د ساتلو هوډ لري، هغه هېواد چې د روسي اشغالګرو ځواکونو او د کمونيزم له ګنده مفکورې نه د لکونو مسلمانو افغانانو جهاد او قربانۍ په برکت ژغورل شوی، کمونستان او سيکولرستان غواړي چې يو ځل بيا له وخت نه د ګټې په اخستلو سره د افغانستان د مسلمان اولس دغه ټول ارزښتونه تر خاورو لاندې کړي او پر دې اسلامي خاوره خپله ګيډه واچوي.

څرنګه چې په هېواد کې د زعيم د ټاکلو او د قدرت د انتقال لپاره د عمومي ټولټاکنو قانون تصويب شوی او دا حق په مطلق ډول اولس ته ورکول شوی چې خپل زعيم د خپلو مستقيمو رأيو له لارې وټاکي؛ نو ددې خبرې ضرورت دی چې د جهادي ګوندونو ټول مشران د لکونو شهيدانو د قربانيو او د جهاد د ارزښتونو د ساتلو په موخه پخپلو کې سره يو موټي شي؛ ځکه چې د مجاهدينو او د جهاد دښمنان ټول پخپلو کې سره منسجم شوي او غواړي چې د جهاد او مجاهدينو ارزښت له منځه يوسي، پکار خو دا و چې د انتخاباتو په لومړی پړاو کې دا کار شوی وای او په لومړی پړاو کې يې خپل نوماند په غوڅ اکثريت بريالی کړی وای؛ خو دا چې په هغه وخت کې يې دا کار ونکړ؛ نو اوس چې ټاکنې دويم پړاو ته تللې ددې خبرې کلکه اړتيا ده چې ټول جهادي ګوندونه د خپل دين او جهاد د ارزښتونو د ساتلو او د خپلو فکري دښمنانو ته د ماتې ورکولو په خاطر چې الهي حکم هم دی نه يواځې دا چې په يو صف کې ودرېږي؛ بلکې د مجاهدينو د هماهنګی شورا د جوړولو او د يو واحد قائد لاندې د راټوليدو لپاره جدي ګامونه اوچت او خپل ټول کارونه پخپلو کې د سلامشوری له لارې د يو منظم پلان له لارې پرمخ يوسي چې په دې توګه خپل هېواد او اولس هم له دغو لاديني مستبدو افکارو څخه وژغوري او خپل اسلامي او جهادي ارزښتونه هم. هر څوک چې له جهادي کورنۍ سره اړيکه لري او په دې لاره کې د خپل هېواد د استقلال لپاره يې معمولي مبارزه هم کړی هغه ته پکار دي چې د ټاکنو په دويم پړاو کې په شپږ ډول د افغانستان د جهاد او د لکونو شهيدانو د قربانۍ د ارزښتونو او د خپل اسلامي هويت د ساتلو په خاطر خپله رأيه د اصلاحاتو او همپالنې ټيم ته ورکړي او په ټاکنو کې د پراخ ګډون له لارې د جهاد او مجاهدينو ازلي دښمنانو ته تاريخي او نه هيريدونکی ماته ورکړي چې د راتلونکي لپاره افغانستان د دوی له ګنده مفکورې او سفاکيو څخه په امن کې پاتې شي.

که الله مه کړه د جهادي ګوندونو مشران له دغه طلايي فرصت نه ګټه وانخلي او د اتحاد پرځای تفرقې ته دوام ورکړي؛ نو پخپل لاس به يې ځانونه د هلاکت کندې ته غورځولی وي. دغه کمونستان چې همدا نن د مجاهدينو سرښندنو ته په سپکه سترګو ګوري او د ثور اتمې ته چې د مجاهدينو د برې او فتحې ورځ وه د بدبختۍ ورځ وايي، که سبا ته اقتدار ددوی په لاسو کې ولوېږي نو ايا له مجاهدينو او اسلامي ګوندونو سره به د غويي د اوومی کودتا نه زيات ظلم او جبر نه کوي. او يو ځل بيا به د ترهګر په نوم د مسلمانانو پر وژلو لاس نه پورې کوي؟!

(فاعتبرو يا اولی الابصار)

خبرونکی اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر عبدالله کامه وال
مرستیال مدیر عبدالخلیل خلیل

د اړیکو شمېرې
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
۰۷۰۰۲۰۲۲۰۱

• د شهادت اونيزه د هر ليکوال او د نظر خاوند د ليکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونيزه حق لري چې د ليکوال ليکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د ليکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالېږل شوي مطالب نه مستردېږي - يوازې سرليکنه د شهادت د اونيزې رسمي نظر دی

شهادت
اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

ډیزاین خواجه وحیدالله | آدرس دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر. د شاداب ظفر بلاکونو شاته. خوشال خان مينه - کابل | Email Add: shahadatnews.kabul@gmail.com

افغانستان د نړۍ په رسنيو کې

په بدخشان کې د ځمکې د ښوييدو د نويو خطرونو اندېښنې

نړيوالو ورځپاڼو بيا هم ډېرى مطالب د افغانستان وروستي ناورين ته ځانګړي کړي دي.

فاينننشل ټايمز ورځپاڼه ليکي، افغان چارواکي د شنبې په ورځ ناهيلې شول چې د بدخشان په لرې پرتې سيمه کې به د غونډۍ د ښويدو په پېښه کې څوک ژوندي پيدا کړي.

په هغه پېښه کې چې د ورځپاڼې په وينا د څوسوو نه د تر ۲۷۰۰ کسانو د ورکيدو يا وژل کيدو خبره کيږي.

ملګرو ملتونو ويلي، چې له دې وروسته له بې ځايه شويو سره چې شمېر يې له څلور زرو تنو زيات اټکل شوى، پر مرستې تمرکز کيږي.

ورځپاڼه وړاندې ليکي، نړيوالو سازمانونو او افغان چارواکو ويلي چې لږ تر لږه درې سوه ختين کورونه د جمعې په ورځ له خاورو ختو لاندې شول خو د تلفاتو د دقيق شمېرپه اړه کره معلومات نشته.

په افغانستان کې د ملګروملتونو دفتر ويلي چې په دې پيښه کې له درې نيم سوو څخه زيات کسان وژل شوي خو افغان چارواکي بيا د ۲۱۰۰ تنو او د مهاجرت نړيوال سازمان IOMچې مرکز يې په جينوا کې دی، د ۲۷۰۰ کسانو د وژل کيدو يا تري تم کيدو خبره کوي.

فاينننشل ټايمز ليکي، د افغانستان لپاره د مهاجرت د نړيوال سازمان مشر ريچارد دانزيګر دا يوسترمصيبت بللى او ويلي يې دي چې يو بشپړ کلى تر خاورو لاندې شوى او په سلګونو کورونيو خپل هرڅه له لاسه ورکړي او اوس بيړنو مرستو ته اړتيا لري.

د ګلوبل پوست خپرونه د بدخشان د پيښې په اړه ليکي چې مرستندويه اداري ځپل شوې سيمې ته ځانونه رسوي خو د ځمکې د ښويدو له پيښې دوه ورځې وروسته په دې اړه چې څومره کسان وژل شوي يا تري تم دي، ضد ونقيض معلومات ورکول کيږي.

خپرونه ليکي، افغان چارواکو په سيمه کې د ځمکې د ښوييدو د نويو خطرونو په اړه هم اندېښنه څرګنده کړې ده.

د ګلوبل پوست خپرونې په وينا افغانستان چې په تيرو لسو ورځو کې د سختو سيلابونواو د کان د نړيدو د خونړيو پيښو شاهد و، د بدخشان د ارګو ولسوالى پيښه ممکن په دې هېواد کې تر ټولو خونړۍ طبيعي پيښه وګڼل شي.

استراليايى د سيډني مارنينګ هرالد ورځپاڼې هم د بدخشان د ارګو ولسوالى د ترځمکې لاندې شوي کلي په اړه له يولړڅرګندونو وروسته د بدخشان د والي شاولي الله اديب له قوله ليکې چې وايي:

دوی نور د لټون او ژغورنې عمليات نشي مخ ته بيولی ځکه کورونه ترمترو خاورو ختولاندې شوي. دوی قربانيانو ته دوعا کوي او سيمه ډله ييز قبر اعلانوي.

ګل اغا شېرزي له ډاکټر ...

وګڼانه او زياته يې کړه، چې په ټول توان سره به د خلکو له عزت او ناموس نه ساتنه وکړي: "نور بايد مخ ته لاړ شو. په دې پسې ونه ګرځو چې څوک څوک دی. هر څه چې شوي، وشول اوس بايد شاته ونه کتل شي، بايد پر مخ ولاړ شو. همدې تفرقو څوک او څوک هېواد ويجاړ کړ. داسې تاريخ بايد راتلونکي نسل ته پرېږدو چې هغوی پرې وويارې."

په همدې حال کې د اصلاحاتو او همپالنې د ټيم مشر ډاکټر عبدالله عبدالله د بدخشان د خونړۍ پېښې، دره صوف او پنجشېر د پېښو په اړه د غمرازۍ د ښودلو ترڅنګ پر حکومت او نړۍ والې ټولنې غږ وکړ، چې د بدخشان له پېښو سره بېړنۍ مرستې وکړي.

هغه وويل، دوی له دغو قربانيانو سره يوه اندازه مرسته کړې، خو په کار ده چې نړۍ واله ټولنه، حکومت، سوداګر او خلک هم د هغوی مرستو ته ودانګي.

نوموړي زياته کړه، چې له ګل اغا شېرزي سره له پيله په تماس کې و؛ دا چې دواړه د خلکو خدمت او د الله جل جلاله رضا غواړي، په همدې مشترک ليد سره يو د بل تر څنګ ولاړ دي. د ښاغلي عبدالله په خبره، که څه هم چې ښاغلی شېرزی او ټول ټيم يې د اصلاحاتو او همپالنې له ټيم سره ودريد؛ خو څينو کړيو هڅه کوله چې د دې توافق مخنيوی وکړي. هغه روښانه نه کړه چې دغه کړی څوک دي.

د اصلاحاتو او همپالنې د ټيم مشر زياتوي، دوی د خدای د رضا، د خلکو د خدمت ژمنې لري، په دې يې توافق کړی، چې کار به اهل ته سپاري، د ملي يووالي تر چتر لاندې به يو سالم حکومت رامنځته کوي او د دواړو ټيمونو يو ځای کېدل د ملي يووالي په برخه کې ستره لاسته راوړنه بولي.

د هغه په وينا، افغانان بايد هڅه وکړي چې په همپالنې او يو بل لاسنيوي سره اوسنی ستونزې او د افغانستان لپاره پيل شوې توطې شنډې کړي. ده د افغانانو ترمنځ نفاق اچول يوه پيل شوې توطيه وبلله، چې له منځه وړل يې د ټولو مسووليت ياد کړ.

ښاغلي عبدالله وويل، چې د اصلاحاتو او د خلکو د خدمت لپاره ژمن دی، له همدې امله ورسره ګل اغا شېرزی هم يو شوی، چې په هېوادنيو مسايلو کې به په ګډه او سلا پرېکړې.

د يادونې وړ ده، چې دواړو لوريو يو توافق ليک هم لاسليک کړ، چې په کې د ښې حکومتولی، د امن او ثبات تأمين، کار اهل ته سپارل او نورو مواردو ټينګار شوی و. په موافقتنامه کې ويل شوي ول، که چېرې ټاکنې دويم پړاو ته لاړې شي او يا لاړې نشي، دوی به په توافق پاڼه کې په راغلو مواردو عمل کوي.

دا له رايه ورکونې وروسته لومړی ځل دی، چې د ټاکنو يو نوماند د بل مخکښ نوماند په ګټه تېرېږي.

۹۰ در صد عابدات و آثار ...

اطلاعات و فرهنگ می گویند، حدود ۱۲۰۰ اثر و آبده‌ء تاریخی کشور در معرض نابودی قرار داشته و اگر به آن توجه صورت نگیرد از بین خواهند رفت.

جلال نورانی مشاور وزارت اطلاعات و فرهنگ افغانستان روز دوشنبه در صحبت با رادیو آزادی گفت، این وزارت بودجه‌ء کافی برای حفاظت و یا بازسای این بناها در اختیار ندارد و کارهای جامعه جهانی نیز در این مورد کافی نبوده است.

آقای نورانی گفت، وزارت اطلاعات و فرهنگ کشور در این رابطه از ملل متحد و سایر مراجع مربوط خواهان همکاری گردیده است.

جلال نورانی مشاور وزارت اطلاعات و فرهنگ افغانستان گفت:

"وزیر اطلاعات و فرهنگ به یونسکو ملل متحد و سایر سازمان های معتبر بین المللی مراجعه کرد و همین موضوع را برایشان یاد آور شده گفت که آثار ما در معرض خطر قرار دارد و شما کمک کنید به خاطر این که آثار از لحاظ قدامت تاریخی خود اهمیت دارد و در واقع سرمایه بین المللی است."

به گفته مسوولان وزارت اطلاعات و فرهنگ در افغانستان بناهای تاریخی زیادی وجود دارند که قدامت آنها به هزاران سال پیش بر می گردد.

از سوی دیگر عمرا خان مسعودی رییس موزیم ملی در صحبت با رادیو آزادی گفت که افغانستان پس از آن که درسال ۲۰۰۵ عضویت کنوانسیون حفظ میراث های فرهنگی جهان را کسب کرد تعدادی زیادی از آثارتاریخی را به کشور بر گرداند.

آقای مسعودی گفت به همکاری یونسکو از بعضی کشور ها آثار تاریخی را که مربوط افغانستان می شد به سفارت افغانستان سپرده شده است.

عمرا خان مسعودی گفت: "از سال ۲۰۰۷به این طرف توانستیم بیشتر از ۹۰۰۰ آثار تاریخی که به غیر قانونی به خارج از کشور منتقل می شد شناسایی کنیم و دوباره بر گردانیم و ما نظر به قانون یونسکو و همکاری پولیس انترپول این حق را داریم تا در برگشتاندن آثار تاریخی اقدام نماییم و هر چی روابط ما با کشور های دیگر نزدیک باشد، نتیجهء آن مثبت است و امید داریم به این هدف برسیم."

آگاهان امور می گویند حفظ آثار تاریخی هویت یک کشور است که حکومت باید در این قسمت اقدام جدی کند. گفته می شود که برخی از بناها در جریان جنگ ها از بین رفته و یاهم قسماً تخریب شده اند و شماری دیگر این بناها در زمان حاکمیت طالبان ازبین رفته اند.

گروه طالبان مسلح، تعدادی از آثار ارزشمند باستانی و تاریخی افغانستان که دارای تصاویر انسان و یا جانوران بودند از جمله "بت‌های بامیان" را تخریب کردند که این عملکرد طالبان با عکس العمل تند جامعه جهانی مواجه شد.

د حزب اسلامي د ځوانانو ...

د احمدشاه بابا مينې د ساحوي دفتر مسؤل استاد سليمان سيد ځوانانو ته د ملت په سياسي چارو کې د بې تفاوته پاتې کيدو په ځای د اسلام د بيرغ په رپانده ساتلو کې د مالي او ځاني قربانيو لپاره د چمتووالي او متحد اوسيدو ټينګار وکړ. وروسته د حزب اسلامي افغانستان د ځوانانو ټولنې عمومي رئيس داکتر سيف الدين عمر خيل د ځپلې عالمانه وينا په ترڅ کې ځوانان بيداری او د نظم سره متحد پاتې کيدو ته را وبلل او داډ يې څرګند کړ چې حزب اسلامی به د ملت د اسلامي تشخص او ارمانونو نه دفاع ته وفادار پاتې کيږي. وروسته د احمد شاه بابا مينې د ساحوي دفتر د تربيوي حلقې مسؤلين او تشکيل مشخص او د ځوانانو د رايې په نتيجه کې په لاندې توګه وټاکل شول.

استاد سليمان سيد مسؤل، محمد نواز شهيدزی معاون، داکتر امان الله د سياسي کميټې مسؤل او دوه تنه ورونه اجمل شينواری او صديق الله صديقی د سياسی کميټی غړی، انجنير مدثر عاصم د مالي کميټې مسؤل او دوه تنه ورونه انجنير خالد رحمان او انجينر سيفور د مالی کيمټې غړي، قاري شکر الله د دعوت او تنظيم د کميټې مسؤل او دوه تنه ورونه عبدالمعروف او رومان د دعوت او تنظيم د کميټې غړي، استاد سمندر د فرهنګي کميټې مسؤل او دوه تنه ورونه محمد افضل او خيرالله مخلص د غړو په توګه وټاکل شول وروسته بيا دعوت اوتنظيم عمومي رئيس د تربيوی حلقې مسؤلينو ته د هغوی وظايف مشخص او روښانه کړل.

غونډه د ځوانانو د مالي کميټې د مسؤل قاري نظر محمد په دعا پای ته ورسيده.

د انتخاباتي شکايتونو ...

د انتخاباتي شکايتونو د کميسيون چارواکي وايي؛ د زورواکو له خوا د خلکو مجبورول چې يوه ځانګړي کانديد ته رايې ورکړي؛ په لوی لاس د صندقونو ډکول، د سيمه ييزو زورواکو له خوا د انتخاباتو د کارکوونکو وهل ټکول او ځينې نور هغه شکايتونه دي چې؛ په يادو ولايتونو کې ثبت شوي دي.

د انتخاباتي شکايتونو کميسون وايي چې؛ د دې ځېړنو نتيجه به څو ورځې وروسته معلومېږي.

د انتخاباتي شکايتونو کميسون په خپلې دويمې غونډې کې د مرکزي زون د ۹ ولايتونو يو سلو يو ديرش شکايتونه څېړلي وو. همدارنګه دې کميسيون په خپلې لومړنۍ غونډه کې د پنځه سوو پنځه ويشتو محلونو څه باندې دوه لکه او څلور ديرش زره رايې باطلې اعلان کړې وې.

په ورته وخت کې د جمهوري رياست د دوو کانديدانو استازيو د دوشنبې په ورځ په علني غونډه کې مطرح شوي شکايتونه رد کړل.

د ډاکټر اشرف غني احمدزي استازي محمد ولي مينه ناک او د زلمي رسول استازي عبدالروف ذاهد په دې اړه وويل چې؛ د انتخاباتي شکايتونو کميسون د دې شکايتونو په اړه اسناد نه لري.

د انتخاباتي شکايتونو کمېسيون دچارواکو دمعلوماتو په اساس د جمهوري رياست او ولايتي شوراګانو په انتخاباتو کې د سرغړونو او درغليو په اړه څه باندې دوه زره شکايتونه به په خپلو علني غونډو کې وڅيړي.

د دغو شکايتونو له څيړنې وروسته تاکل شوې؛ د جمهوري رياست د انتخاباتو وروستي نتايج د ثور په څلورويشتمه نيټه اعلان شي.

دفتر UNHCR در انقره ...

از جملهء این دلایل یکی این که دفتر ساحوی سازمان ملل در انقره مسوول بررسی دوسیه های اتباع کشور های سوریه، عراق و ایران است و فقط به این کشور ها عرضهء خدمات دارند.

آقای مستغنی همچنان گفت که اکثریت کشور ها افغان ها را مهاجر واقعی نمی دانند:

"دلیل دوم این که به کشور های که این سازمان افراد را به عنوان مهاجر می فرستد، آن کشور ها انتقاد کرده اند که افغان ها بیشتر مهاجرین واقعی نیستند."

به گفتهء آقای مستغنی دفتر سازمان ملل در انقره گفته است که مهاجران افغان می توانند از حکومت ترکیه خواهان پناهنده گی شوند.

بر اساس گزارش های برخی از رسانه های خارجی، حدود ۳ صد مهاجر افغان در مقابل دفتر ساحوی سازمان ملل در انقره چندی قبل به گونهء اعتراض تجمع کرده بودند تا عرایض آنان برای پناهنده گی در بعضی از کشور ها پذیرفته شود.

بر اساس ارزیابی که از طریق رسانه ها به نشر رسیده است، در میان این پناه جویان اطفال و زنان نیز شامل اند. اکثریت مهاجرین افغان از راه ترکیه به گونه غیر قانونی وارد اروپا می شوند و یا در این کشور انتظار رفتن به یکی از کشور های اروپایی را می کشند.

گفته می شود نا امنی ها، بیکاری و نگرانی ها از آینده این کشور عواملی اند که منجر به رفتن افغان ها به سایر کشور های جهان می گردد.

تعدادی از وکلا خواستار ...

سلب اعتماد رییس د افغانستان بانک نظریاتی مختلف را مطرح کردند.

برخی از وکلا می خواستند در غیاب نورالله دلاوری رییس د افغانستان بانک جهت اخذ رای اعتماد دوباره صندوق گذاشته شود، اما برخی دیگر آنان گفتند که ولسی جرگه صلاحیت این کار را ندارد.

عبدالروف ابراهیمی رییس ولسی جرگه روز دوشنبه پس از شنیدن بحث های نماینده های مردم دراین جرگه گفت، در مورد این مساله باید کمیسیون نظارت برتطبیق قانون اساسی کشور وضاحت بدهد.

وی اظهار داشت:

"با احترام به هردو طرف ما هیات داریم ، مکتوب را روان م یکنیم به کمیسیون نظارت بر تطبیق قانوت اساسی آنان تفسیر را روان کنند که کدام نظر را تایید می کنند تا ما در روشنایی آن تصمیم بگیریم"

اعضای ولسی جرگه بنا بر دلایل مختلف چون حاضر نشدن رییس دافغانستان بانک به نشست استجوابیه ولسی جرگه وارایه نکردن معلومات در مورد کابل بانک و وضعیت بانک های خصوصی در کشور فیصله بر استیضاح وی کردند.

به شمول رییس د افغانستان بانک روسای چهار اداره ء مستقل در کشور از ولسی جرگه رای اعتماد می گیرند. برخی از وکلا می گویند که در ماده نود و دوم قانون اساسی افغانستان به صراحت ذکر نشده است که ولسی جرگه افغانستان برعلاوهء وزراء حق استیضاح و سلب اعتماد روسای چهار ریاست بزرگ دیگر را نیز دارند یا خیر؟ اما با آن هم برخی از وکلا تاکید نمودند که نورالله دلاوری رییس د افغانستان بانک باید سلب اعتماد شود. امیرخان یار یکی از این وکلا گفت: "بیاید این را سلب اعتماد کنید.این شخص مجرم است کسی است که به جرم متهم شده است.این را به ستره محکمه، لوی سارنوالی، ریاست جمهوری، آی ام اف و بانک جهانی در جاهای که علیه شان اتهامات داریم مکتوب هایش را صادر کنید. چون این شخص نزد ما رسمیت ندارد."